# د افغانستان په پوهنتونو کې د تضمين کيفيت ننګونې او فرصتونه: شيخ زايد پوهنتون ته ځانګړې کتنه

**پوهنيار هارون برهان**

عامه اړيکې، ارتباطات او ژورنالېزم، شيخ زايد پوهنتون، خوست، افغانستان

**ايميل:** borhanharoon@gmail.com

**لنډيز**

څېړنه د افغانستان په پوهنتونونو کې په ځانګړي ډول د شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت ننګوونو، فرصتونو او بهير ته علمي کتنه کوي. د څېړنې اصلي موخه دا ده، چې په شيخ زايد پوهنتون کې د تضمين کيفيت بهير څنګه مخکې ځي او دا پروسه د کومو فرصتونو او ننګونو سره مخ ده وڅېړي. د څېړنې فرضيه دا ده، چې شيخ زايد پوهنتون کې د تضمين کيفيت پروسه له ګڼو ننګونو سربېره ښه روانه ده او که شته فرصتونه ښه مديريت شي، دا به ياده پروسه لا ښه تطبيق او اغېزمنه کړي. څېړنه د تحليلي او توصيفي ګډ ميتود پر بنسټ ترسره شوې، چې د سروې، نيمه جوړو شويو مرکو او رسمي اسنادو تحليل ته په کې مراجعه شوې ده. د سروې لپاره نمونه د پوهنځيو رئيسانو، څانګو آمرينو، استادانو، تدريسي مديرانو او اداري کارمندانو څخه اخيستل شوي ده. همدا رنګه، د پوهنتون د علمي چارو مرستيال، د څېړنو مرستيال او د تضمين کيفيت آمر سره ځانګړي ژورې مرکې ترسره شوي دي. سربېره پردې، د شيخ زايد پوهنتون د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ کال د تضمين کيفيت د بيروني ارزونې راپورونو ته هم ژوره کتنه شوېده. د څېړنې موندنې ښيي چې د شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت بهير سره له دې چې د بشپړ اعتبار درلودونکی دی، خو لا هم د څېړنې کمزورتيا، د معلوماتي سرچينو محدوديت، د ټيکنالوژۍ نيمګړتيا، د بوديجې کمښت، د کادري ظرفيت کمښت او د پاليسيو نه وضاحت هغه خنډونه دي چې د بهير پر مؤثريت يې منفي اغېز کړی. بل لورته، د لوړو زده‌کړو وزارت همکاري، باثباته امنيت، د مسلکي پراختيا مرکز او د هيواد داخل او خارج کې روزل شوي کادرونو شتون د تضمين کيفيت لپاره مهم د قوت ټکي دي. څېړنه به د لوړو زده‌کړو وزارت او پوهنتونونو سره د تضمين کيفيت بهير او اړوند پاليسيو په جوړولو کې مرسته وکړي.

**کليدي وييونه:** تضمين کيفيت، لوړې زده کړې، ننګونې او فرصتونه، شيخ زايد پوهنتون او افغانستان.

**سریزه**

په اوسنۍ نړۍ کې د لوړو زده‌کړو ښه کیفیت د ټولنیز، اقتصادي، سیاسي، دیني او فرهنګي پرمختګ د ملا تېر دی. له‌همدې امله د پوهنتونونو اساسي موخه دا ده چې ټولنې ته په کار پوه مسلکي، علمي او وړ کادرونو وړاندې کول دي، کوم چې د ملي او نړیوالو معیارو او اړتیاوو سره برابر وي. د همدې لپاره د نړۍ په کچه د پوهنتونونو د تعلیمي، څېړنیزو او اداري چارو کیفیت د ارزولو او لوړولو لپاره د تضمین کیفیت پروسه را منځته شوې ده.

که څه هم د افغانستان پوهنتونونو د تضمین کیفیت بهیر په تېرو کلونو کې یو شمېر مهم پرمختګونه کړي دي او اوس هم د پرمختګ فرصتونه لري، خو لا هم له ګڼو ستونزو، ننګونو او نیمګړتیاوو سره مخ دي. شیخ زاید پوهنتون چې د افغانستان په کچه د مخکښو دولتي پوهنتونونو څخه دی، د تضمین کیفیت برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، لکه تضمین کیفیت برخه کې درېیم سټیج ته په بریالي ډول رسیدل او د هغې ساتل. خو د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې په تطبیق کې د ځینو ننګونو سره مخ دی، چې د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونه، د علمي معیارونو لوړاوي او نړیوالو معیارونو سره برابروالي ته اړتیا لري او پاتې دې نه وي، چې یادې ننګونې د پرمختګ فرصتونه هم له ځان سره لري.

لکه‌څنګه چې د تضمین کیفیت پروسه او سیستمونه په تعلیمي بنسټونو کې، د ملي او نړیوالو معیارونو سره سم د فعالیتونو برابروالی تضمینوي او ټولنې ته د مارکېټ غوښتنو مطابق د باکیفیته انساني ځواک په رزولو کې لویه ونډه لري. بناً د دې څېړنې ارښت هم‌پدې کې دی، چې دا څېړنه به د شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت برخه کې د علمي، اداري او کیفیتي نېمګړتیاوو په درک کې مرسته وکړي او د شیخ زاید او نورو پوهنتونونو د بهبود لپاره به حل لارې او وړاندیزونه وړاندې کړي. سربېره پردې، څېړنه به د لوړو زده‌کړو وزارت، پوهنتونونو او اړوندو ادارو لپاره یو علمي سند وړاندې کړي، چې د پالیسو په جوړولو او ستراتیژیکو تصمیمونو نیولو کې به مرسته وکړي. بلخوا، څېړنه د افغان تعلیمي چاپیریال لپاره نوي ده او د راتلوونکي محصلینو او څېړونکو لپاره به د یو علمي اثر او مأخذ په توګه استعمال شي. د مقالې

پايلې به د شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت او اعتبار ورکونې بهير په ښه کيدو کې مرسته وکړي او همدارنګه به د افغانستان نورو پوهنتونونو لپاره د يوې علمي او تجربوي نموني رول ولوبوي.

په‌همدې اساس دا څېړنه هڅه کوي، چې په شيخ زايد پوهنتون کې د بېلګې په توګه د تضمين کفيت اصلي ننګونې او فرصتونه وڅيړي، د تضمين کيفيت برخه کې موجوده وضعيت تحليل کړي، عملي حل لارې وړاندې کړي، تر څو د افغانستان په پوهنتوني نظام کې د کيفيت لوړاوي ته لاره هواره کړي.

څېړنه په دې را څرخې، چې د افغانستان پوهنتونونو په ځانګړي توګه په شيخ زايد پوهنتون کې د تضمين کيفيت بهير څنګه مخکې ځي او دا پروسه د کومو فرصتونو او ننګونو سره مخ ده؟ د څېړنې فرضيه دا ده، چې شيخ زايد پوهنتون کې د تضمين کيفيت پروسه له ګڼو ننګونو سربېره ښه روانه ده او که شته فرصتونه غوره مديريت شي او په مؤثر ډول وکارول شي؛ دا به ياده پروسه لا ښه تطبيق او اغېزمنه کړي.

## د څېړنې مخينه

تېرو آثارو ته په کتنه کې هغه تحقيقات او څېړنې را وړل شوي او اشاره ورته شوې، چې د نړۍ او افغانستان په کچه يې د تضمين کيفيت برخه کې ننګونې او فرصتونه څېړلي دي.

د تضمين کيفيت يا QA (Quality Assurance) يو منظم بهير دی، چې هدف يې د تحصيلي برنامو، ادارو او تدريسي کيفيت د معيارونو مطابق ارزول او لوړول دي. د نړيوالو تعريفونو له مخې، تضمين کيفيت هڅه کوي، چې د زده‌کړو بهير شفاف، اغيزمن، حساب ورکونکی او د ټولنيزو اړتياوو سره برابر کړي (Harvey & Green, 1993).

د نړۍ په‌کچه په لوړو زده‌کړو کې تضمين کيفيت (QA) ورځ تر بلې پيچلتيا ته روانه پروسه ده. په پوهنتونونو کې د علمي او اداري برخو کارمندانو لخوا د خپلو

کړنو او عملياتي پلانونو د تطبيقاتو په اړه په ډېر جزوي ډول د معلوماتو راټولو، ترتيبول او د څارونکو ټيمونو پر وړاندې د هغې دفاع کول يو ستونزمن کار او اوږدمهاله پروسه ده. د تضمين کيفيت پروسه طبعيتاً د کار او مسؤوليت څخه ډکه ده؛ د پوهنتونونو اداري کارمندانو او استادانو زياتو هڅو او کوښښونو ته اړتيا لري، سربېره پردې، دا يو پراخه، د کارمندانو د زياتې توجه او د معلوماتو د را ټولولو برخه کې د زياتو مصارفو لرونکي پروسه ده (Go8, 2018). د تضمين کيفيت ساحوي پروسه د لومړی ځل لپاره په اروپا او اسيا پاسفيک کې د هم اهنگه نتيجو او تجربو شريکولو لپاره رامنځته شوه (Valeikiene, 2017).

سره‌له‌دې، مخ پر وده هيوادونو کې د تضمين کيفيت پروسه د اړوند هيواد وضعيت او حالت ته په کتو يو له بله توپير کوي. په داسې حالاتو کې د پوهنتونونو خپلواکي نوره هم محدوديږي او عموماً د پوهنتونو او ادارو ظرفيت محدود وي، د تضمين کيفيت پروسې ته را ټول شوي معلومات دقيق، نوي او اپډېټ نه وي او په ټوله کې، د تضمين کيفيت پروسه په ډېر ابتدايي حالت کې وي او په اړه يې پوهه ډېره لږه وي (Nguyen, 2018 & Roof, 2015). بله‌خوا په ډېرو مخ پر وده هيوادونو کې اداري فساد په تعليمي سيستمونو او ادارو کې هغه لوی عامل دی، چې د تضمين کيفيت مخه يې ډب کړې ده (Welch, 2011b, 2019b) ، بالخصوص په هغه سيمو او ايالتونو/ ولايتونو کې، چې د هغې وضعيت نازک وي او هلته شفافيت او امنيتي ثبات نه وي، د ټولنيز پرمختګ د اهدافو لپاره په خلکو کې اتحاد او يوالی نه وي او چېرې، چې هلته د لوړو زده‌کړو پر ځای يوازې د ښونځيو او مسلکي زده‌کړو ميلان زيات وي(Lim, 2001; GUNI, 2007; World Bank, 2018; OECD, 2016). همدا وجه ده، چې دې پروسې ته يو ستونزمنه پروسه ويل کيږي، چې زيات کار او هڅو ته اړتيا لري. له‌همدې امله دا پروسه داسې سيستمونه لري، چې په هر حالت کې عيار کيدای شي او هر ډول تغيرات پکې امکان لري ( Hayward, 2015 & New York Times, 2018).

د لوړو زده‌کړو د تضمين کيفيت په برخه کې شته ننګونې او د تطبيق پر وړاندې خنډونه نه يوازې په افغانستان کې دي، بلکې همدې ته ورته ستونزې په يو شو نورو

هیوادونو کې هم شته، د بېلګې په توګه افریقا، کامبودیا او ویتنام هغه هیوادونه دي، چې د افغانستان په څېر یې د تضمین کیفیت برخه کې پیچلې ستونزې او ننګونې تجربه کړې دي (Welch, 2011a). د تضمین کیفیت د تطبیق په برخه کې افغانستان تجربه ډېره لږه او یا په هېڅ حساب ده، چې لوی لامل یې په تېرو دریو لسیزو کې ویجاړونکې جګړه وه؛ چې له امله یې د لوړو زده کړه سکتور اړتیا لري، څو دې برخې ته له سره کار وشي او پراختیا ورکړل شي(World Bank, 2008) .

بلخوا، د تضمین کیفیت برخه کې یو لړ نورې اساسي ستونزې هم د یادولو وړ دي. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت (MoHE) چې د ټول هیواد په کچه د لوړو زده کړو په برخه کې مسؤوله اداره ده ډېره کوچنۍ ده، چې ډېر وخت د کادرونو او مالي کمښت سره هم مخ وي (Welch, 2011a). د افغانستان د لوړو زده کړو په برخه کې په بیرونۍ بودیجه باندې اتکا یو بله لویه ستونزه وه. دې برخه کې اداري فساد هغه که محلي وو او که د بهرنیو قراردادیانو له خوا ترسره کیده او د مافیایي سیاستوالو لخوا یې ملاتړ کیده. (New York Times, 2018). دې فساد په افغانستان کې د لوړو زده کړو برخه کې د کم تمویلۍ ستونزه لا پسې زیاته کړه، چې د تضمین کیفیت په برخه یې هم زیات اغېز وکړ.

دا چې د افغانستان لوړو زده کړو سیستم د تضمین کیفیت په برخه کې ډېرې ستونزې لري، ځکه خو د نړۍ په کچه د ډېرو اسلامي هیوادونو د لوړو زده کړو په برخه کې هم د سیالۍ وړ نه دی (Welch, 2011a; UWN, 2009). په ۲۰۰۹ م کال کې د مالیزیا نړیوال اسلامي پوهنتون (IIUM) د تضمین کیفیت (QA) د څانګې مشر ژوره خواشیني څرګنده کړه او ویې ویل: په ډېر تاسف سره، چې د نړۍ د غوره پوهنتونونو په درجه بندۍ کې له ۵۰۰ غوره پوهنتونو څخه یوازې د ترکیې استانبول پوهنتون شامل وو؛ پداسې حال کې چې په ټوله اسلامي نړۍ کې د ۱۷۰۰ څخه زیات پوهنتونونه شتون لري.

د افغانستان هېڅ پوهنتون د لویو مشهورو پوهنتونو په کتار کې ځای نلري، چې علت یې هم د تضمین کیفیت(QA) برخې ته نه پاملرنه او یا د کار نشتون حسابیږي. د افغانستان د لوړو زده کړو د تضمین کیفیت په برخه کې مهمې ستونزې محدود

مالي امکانات، د امنيت خرابوالی، د وزارت د کارکوونکو د ظرفيت کموالی او د عامه او خصوصي پوهنتونونو دننه خنډونه ګڼل شوي دي Welch, & Wahidyar, (2019). د افغانستان نفوس ته په کتو د پوهنتونونو او تعليمي موسسو شتون کافي دی، مونږ بايد اوس د کيفيت په اړه فکر وکړو (د لوړو زده‌کړو علمي معين بلاکرزی، ۲۰۱۸). له دې ځايه په پوهنتونونو کې د تضمين کيفيت (QA) د برخې ارزښت او اهميت څرګنديږي او ياده پروسه مو د نړۍ سره د پرمختګ، ښيرازۍ او سوکالۍ په برخه کې د سيالۍ ډګر ته باسي. په همدې موخه په افغانستان کې د تضمين کيفيت (QA) پروسه په ۲۰۱۱ کال کې پيل شوه. د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت (MoHE) د تضمين کيفيت او اعتبار ورکولو رياس تاسيس کړ، چې هدف يې د پوهنتونونو تعليمي، اداري، او څېړنيزو پروسو معياري کول و. دغه رياست په دې هدف تاسيس شو، چې د افغانستان د لوړو زده‌کړو په سيستم کې د کيفيت لوړولو لپاره يو معياري چوکاټ جوړ کړي.

شيخ زايد پوهنتون د افغانستان په کچه له هغو مخکښو تعليمي بنسټونو څخه دی، چې د کيفيت تضمين دريېمه مرحله يې بريالۍ بشپړه کړې. پوهنتون د داخلي ارزونې جدي اقدامات تر سره کړي، تدريسي نصاب د معياري کولو هڅې زياتې شوي دي، علمي تحقيقاتو ته زمينه برابره شوې او د تدريس او زده کړې پرمختيا ته ځانګړې توجه شوې ده. همداراز، د څلورو څلوېښتو ځانګو او دولسو پوهنځيو د همغږۍ له لارې، د علمي کيفيت ارتقاء ته پوره کار روان دی، خو لا هم ځينې اداري، مالي او تخنيکي ننګونې شته چې اړتيا لري مديريت شي. په دې څېړنه کې هم هڅه کيږي، تر څو د شيخ زايد پوهنتون رهبرۍ، د تضمين کيفيت د برخې مسؤلينو، د دوولسو پوهنځيو رئيسانو د ځانګو امرينو، استادانو او اداري کارمندانو څخه د يادې پروسې د تطبيق پر وړاندې د شته خنډونو، ننګونو او فرصتونو اړوند نظريات را ټول او تحليل شي. دا لومړۍ علمي څېړنه ده، چې د شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت د ننګونو، خنډونو او بهير په اړه تر سره کيږي.

## د څېړنې تګلاره

دا څېړنه توصيفي او تحلیلي څېړنه ده، چې د کمي معلوماتو لپاره کمي او د کیفي تحلیل لپاره کیفي میتودونو څخه یو ځای کاراخیستل شوی، چې د ګډ میتود طریقه هم ورته وایي. پدې معنی چې د سروې له لارې شمېرنیز معلومات را ټول شوي، د مرکو او سندونو د تحلیل له لارې ژور تحلیل تر سره شوی دی.

د معلوماتو د راټولولو سرچینې یې هم په دوه ډوله دي. اول، ابتدایي معلومات، چې د پوهنتون له استادانو او اداري کارمندانو څخه د پوښتنلیك له لارې را ټول شوي دي او تر څنګ یې مرکې د پوهنتون رهبرۍ، د تضمین کیفیت آمریت، د پوهنځیو رئیسانو او څانګو آمرینو سره تر سره شوي دي. دویم، ثانوي معلومات دي، چې د پوهنتون د تضمین کیفیت رسمي اسناد لکه د ځاني ارزونې راپورنه د بهرني ارزونې راپورنه علمي مقالې او کتابونه دي په کې مطالعه شوي دي.

د څېړنې د معلوماتو د راټولولو لپاره له دریو لارو کار اخیستل شوی، چې آنلاین سروې(Structured Questionnaire)، نیمه جوړې شوې مرکې(Semi-structured Interviews) او د درې کالونو موجوده اسنادو ارزونه پکې شامله ده.

د څېړنې لپاره د نمونې اندازه(Sample Size): د پوهنتون له هر پوهنځي څخه لږ تر لږه ۴-۱۰ پورې کسان (د پوهنځیو رئیسان، د څانګو آمرین، استادان، تدریسي مدیران او اداري کارمندان) شامل وو، چې ټول په تخمیني ډول ۱۰۰ کسان کېږي.

د نمونې اخیستنې طریقه (Sampling Method) کې له احتمالي (probability) میتود څخه په طبقو کې تصادفي نمونې اخیسته (Stratified Random Sampling) کې کار اخیستل شوی، چې له هرې طبقې یعنې د پوهنځي رئیسان، د څانګو آمرین، استادان، تدریسي مدیران او اداري کارمندانو څخه لېستونه ترتیب شوي او بیا تصادفي نمونه اخیستنه تر سره شوې ده. بلخوا، د مرکو لپاره د هدفي نمونې (Purposive Sampling) څخه کار اخیستل شوی یعنې هغه کسان چې د تضمین کیفیت سره نږدې اړیکه لري لکه د تضمین کیفیت آمریت، د تحقیق معاونیت، علمي معاونیت سره ژورې مرکې ترسره شوي دي.

د معلوماتو د تحليل لپاره په څېړنه کې د کمي معلوماتو لپاره د (SPSS او Excel) پروګرامونو څخه کار اخيستل شوی او د مرکو او راپورونو د تحليل لپاره موضوعي تحليل (Thematic Analysis) طريقه کارول شوې ده؛ يعنې له موضوعاتو منطقي استخراج شوی دی او د تضمين کيفيت برخه کې ننګونې، فرصتونه او روان بهير يې تحليل شوی دی.

## د شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت بهير

شيخ زايد پوهنتون کې د تضمين کيفيت پروسه پهٔ ۱۳۹۱ ه.ش کال کې پيل شوې ده، چې پهٔ پيل کې ياده پروسه نوې وه، استادان او کارمندان ورسره پوره اشنا نهٔ وو، درې يا څلور کاله وروسته پهٔ نسبي توګه ګړندی شوه او چارې يو څه منطمې شوې. پهٔ شيخ زايد پوهنتون کې ياده پروسه لهٔ درو پړاوونو تېره شوه او پهٔ پايله کې ياد پوهنتون پهٔ ۱۰ / ۳ / ۱۴۰۰ل.ل نېټه يې بشپړ اعتبار ترلاسه کړ، چې اوس ياد پوهنتون د خپل بشپړ اعتبار خونديتوب پهٔ دويم پړاو کې قرار لري (ظ. ش، ظهير، ځانګړې مرکه، ۸ جوزا، ۱۴۰۴)

په ياده ارزونه کې چې د يو نهاد په کچه د يوولسو اصلي معيارونو مجموعي نمرې (۴۷۸) وې شيخ زايد پوهنتون د يادې ارزونې په نتيجه کې وتوانيده، چې له (۴۷۸) نمرو څخه (۴۱۳) نمرې تر لاسه کړي. د يادې اروزنې له مخې نهاد هغه وخت کولای شول، چې دريم پړاو يا بشپړ اعتبار ترلاسه کړي، چې د نمرو سلنه يې (۸۵٪) وي، شيخ زايد پوهنتون په ياده ارزونه کې (۸٦،۴) سلنه نمرې تر لاسه کړې او بشپړ اعتبار او دريم پړاو يې تر لاسه کړ. (ناصرى، دوستم، & ايوبى، ۱۴۰۰)

د ياد راپور په اساس د شيخ زايد پوهنتون لپاره غوره ټکي يا فرصتونه؛ مساعد موقعيت، تقريباً د هر پوهنځي لپاره جدا ودانۍ، د پراخې ځمکې شتون، د سپورت لپاره د پراخو ميدانونو شتون، د مسلکي پرمختيا ( Professional Development Center) لپاره د مرکز شتون او ځوانه رهبري هغه څه وو، چې د ياد پوهنتون د تضمين کيفيت په برخه کې غوره ثابت شوي وو. په همدې ارزونه کې د شيخ زايد پوهنتون ځينې برخو کې نيمګړتياوې درلودې، چې لويې نيمګړتياوې يې په لرليد او ستراتيژۍ، د کادري او اداري کسانو کمښت، کتابتون او معلوماتي سرچينو کمښت،


معلوماتي ټيکنالوژي او اسانتياوو کمښت برخه کې د يادولو وړ دي (ناصری، دوستم، & ایوبی، ۱۴۰۰)

دا چې د بشپړ اعتبار د تر لاسه کولو وروسته هر نهاد بايد تر پنځو کالو پورې ياد اعتبار وساتي او هر کال د حفظ سند يا د سند ساتلو په موخه (۸۵٪) نمرې تر لاسه کړي که کوم نهاد ونتوانيده، چې معياري نمرې پوره کړي نو اعتبار بېرته ترې اخيستل کيږي. بناً شيخ زايد پوهنتون ۱۴۰۱/۱۱/۸ – ۱۴۰۱/۱۱/۱۵ه. ش کې د لوړو زده‌کړو وزارت د تضمين کيفيت او اعتبار لوړونې رياست له لورې وارزول شو، چې له (۴۷۸) معياري نمرو څخه يې (۳۰٦,۳۸) تر لاسه کړې، چې (٦۴,۱۰٪) فيصده کيدې په دې سره شېخ زايد پوهنتون و نتوانيده، چې د بشپړ اعتبار سند وساتي. د ارزونې په اساس د شيخ زايد پوهنتون تر ټولو لويه ستونزه په شپږم اصلي معيار يعنې څېړنه کې وه، چې له ۱۰۰٪ سلنې څخه يې يوازې (۵۵,۴٦٪) سلنه کار کړئ وو. ورپسې غټې ستونزې د کتابخانې او معلوماتي سرچنو کمښت، د معلوماتي ټيکنالوژی او سهولتونه کمښت، د ځانګو په کچه ستونزې او د پوهنتون په لرليد او ماموريت کې ستونزې د يادولو وړ دي (سراج، شريفي، حسنی، توفيق، & احمدزی، ۱۴۰۱).

شيخ زايد پوهنتون د لوړو زده‌کړو وزارت د تضمين کيفيت او اعتبار ورکونې رياست له لورې په ۱۴۰۲/۱۱/۲۸ – ۱۴۰۲/۱۲/۳ کې بيا هم وارزول شو، دا ځل ياد پوهنتون د تېر کال په خلاف له (۴۷۸) معيارو نمرو څخه يې (۴۱۲,٦۱) نمرې چې (۸٦,۳۲٪) سلنه کيږي تر لاسه کړې؛ چې بريالی او د بشپړ اعتبار سند په ساتلو وتوانيده او د هيواد په کچه پۀ پنځو غوره پوهنتونونو کې يې دويم مقام خپل کړ. دا چې په ۱۴۰۲ ه.ش کال کې د تحقيق معاونيت ايجاد شو، ځکه پدې ارزونه کې د څېړنې په برخه کې نسبت تېر کال په خلاف لوی توپير موجود او د څېړنو برخې زيات پرمختګ کړئ وو. په ياده ارزونه کې هم ځينې لويې نېمګړتياوې لکه، د معلوماتي ټيکنالوجي او سهولتونو کمښت، د کتابخانې او معلوماتي سرچينو کمښت، د څېړنو کمښت هغه نېمګړتياوې وې، چې د پوهنتون په عمومي نمرو يې لوی تاثير

پریوتی وو (حسنی، هاشمی، ممله وال، سیرت، عمرزی، امین، احمدزی، عظیمی، درانی، & فروتن، ۱۴۰۲).

له دې ارزونو وروسته شیخ زاید پوهنتون د افغانستان د نورو پوهتونونو په شمول د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې ریاست له لورې نه دی ارزول شوی، خو د ۱۴۰۳ ه. ش کال په جریان او اخېر کې پوهنتون د تضمین کیفیت آمریت له لورې ځانې ارزونه تر سره شوې ده، چې پایله یې مثبته وه. په لاندې ګراف کې د شیخ زاید پوهنتون د ۱۴۰۰ څخه تر ۱۴۰۲ کلونو پورې د تضمین کیفیت اړوند د ۱۱ ګونو معیارونو کې د کار تحلیل وړاندې کیږي، چې د یاد پوهنتون د یادو درېیو کلونو د بیروني ارزونو د راپورونو څخه ترتیب شوی دی.





**شکل ۱. د شیخ زاید پوهنتون د درېیو کلونو په موده کې د تضمین کیفیت ۱۱ اصلي معیارونو ته د کار توپیر**

لکه څنګه چې په ۱ ګراف کې ښکاري د یادو دریو کلونو په جریان کې تر ټولو لویه برخه، چې د اصلي معیار څخه یې کمې نمرې تر لاسه کړي دي او نسبت نورو معیارونو ته په کې کار کم شوی دی، هغه د څیړنې برخه ده. ورپسې، چې د اصلي معیاري نمرو سره یې توپیر زیات دی، د معلوماتي سرچینو او کتابخانو برخه ده، په دې معنی چې دویمه لویه برخه، چې د تضمین کیفیت برخه کې لویه ننګونه ده هغه د معلوماتي سرچینو او کتابخانو کمښت دی. بله هغه برخه چې د معیاري نمرو سره یې لوی تفاوت درلود، د معلوماتو ټیکنالوجي او سهولتونو نه برابرول دي،

چې د تضمین کیفیت برخه یې له خنډ سره مخ کړې ده. ګراف ته په کتو سره، شیخ زاید پوهنتون کې د کیفیت ښه والي او لوړوالي ته پوره پام شوی دی، ځکه په نهم معیار کې د ترلاسه شویو نمرو تفاوت د معیاري نمرو سره کم ښکاري. همدا راز، رهبري، اداره او مدیریت او د ټولنې په پرمختګ کې د پوهنتون ونډه هغه برخې دي، چې شیخ زاید پوهنتون کې ورته کار شوی دی او په نسبي ډول نورو معیارونو ته غوره دي.

په هغه سروې کې چې د همدې څېړنې لپاره تر سره شوې ده د اداري او علمي ستاف څخه د تضمین کیفیت د عامه پوهاوي په اړه هم پوښتنه شوې ده، چې نتیجه یې په لاندې شکل کې ښکاري.




**شکل ۲. شیخ زاید پوهنتون کې د تضمین په اړه عامه پوهاوي**

لکه څنګه چې په۲ شکل کې ښکاري، د شیخ زاید پوهنتون ټول ستاف، چې کادري غړي او اداري کامندان دي ۹۸٪ سلنه یې د تضمین کیفیت په اړه عامه پوهاوی لري او د تضمین کیفیت د چک لېستونو او اړوند مواردو سره بلدتیا لري.

شیخ زاید پوهنتون د علمي او مسلکي ظرفیت لوړونې لپاره دوه ډوله برنامې لري، چې یو یې د پوهنتون په داخل کې د (PDC) مسلکي پراختیا مرکز دی او بل یې د هیواد په داخل او بهر کې د ماسټرۍ او دوکتورا برنامو تعقیب دی(ن. حسین خېل، ځانګړې مرکه، ۵ جوزا، ۱۴۰۴). د شیخ زاید پوهنتون دتضمین کیفیت آمر پوهندوی ظاهر شاه ظهیر په ټوله کې د تضمین کیفیت چارې مثبتې بولې او په اړه

يې وايي:"د تضمین کیفیت پروسې ټول اسناد او شواهد منظم شوي دي، د شیخ زاید پوهنتون ټولې تدریسي، څېړنیزې او اداري چارې د (۱۱) اصلي معیارونو ترپوښښ لاندې د (۲۶۳) فرعي معیارونو لهٔ مخې پرمخ وړل کېږي. شیخ زاید پوهنتون د یوې واحدې رهبرۍ ترچتر لاندې خپل ټول فعالیتونه د منظمو پلانونو لهٔ لارې پرمخ وړي او لهٔ ځینو جزوي ستونزو پرته کومه څرګنده ستونزه نه لري." بلخوا بیا د یاد پوهنتون علمي څېړنو مرستیال پوهنمل دوکتور احمد جاوید شکیب(ځانګړې مرکه، ۱۰ جوزا، ۱۴۰۴) په خبره چې څېړنه د تضمین کیفیت یوه لویه برخه ده، چې نسبت نورو معیارونو ته زیاتې او (۱۲۸) نمرې لري. دی زیاتوي، د شیخ زاید پوهنتون د محصلانو او استادانو څېړنیز فعالیتونه د تضمین کیفیت له معیارونو سره بشپړ برابره نه دي؛ ځکه د څېړنیزو فعالیتونه د تضمین کیفیت له معیارونو سره برابرولو لپاره وخت او منابعو ته اړتیا لري، چې دا په شیخ زاید پوهنتون کې په نشت حساب دي. د بیلګې په توګه پالیسي جوړونکي څېړنو لپاره د پوهنتون او لوړو زده‌کړو وزارت له لورې هیڅ امکانات نه دي برابر شوي.


**د شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت د تطبیق پر وړاندې خنډونه او ننګونې**

شیخ زاید پوهنتون چې په بریالتوب سره یې د تضمین کیفیت درېیم پړاو اخیستی دی او تر دې مهاله یې د بشپړ اعتبار سند ساتلی دی، خو بیا هم د تضمین کیفیت د ۱۱ ګونو اصلي معیارونو او فرعي معیارونو په بشپړ تطبیق کې له ځینو خنډونو او ننګونو سره مخ دی. په همدې تړاو د شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت آمر پوهندوی ظاهر شاه ظهیر(ځانګړې مرکه، ۸ جوزا، ۱۴۰۴) وایي "پهٔ شیخ زاید پوهنتون کې تر ډېره حده د مسلکي کادرونو د کمبود، کارونو ډېروالی او د چارو پهٔ خپل وخت سر ته نهٔ رسول د یادې پروسې پهٔ ترسراوي کې اساسي ستونزې دي. پهٔ لومړیو کې د تجهیزاتو کموالی، د پروسې سره نابلدتیا او یادې پروسې ته د شک پهٔ سترګه کتل هغه ستونزې وې، چې پهٔ تېر کې د شیخ زاید پوهنتون زیاتره استادان او کارکوونکي ورسره مخامخ وو."

بل لورته بیا د شیخ زاید پوهنتون د علمي چارو مرستیال پوهنمل نور الله حسین خېل (ځانګړې مرکه، ۵ جوزا، ۱۴۰۴) د تضمین کیفیت پر وړاندې لوی خنډونه او

ننګونې په کافي اندازه د زیربنا نشتون، د علمي تحقیقاتو لپاره د پوره امکاناتو نشتون او د تضمین کیفیت پروسې لپاره د ځانګړې بودجې نشتون یادوي. دا چې څېړنه او تحقیقي چارې د لوړو زده‌کړو په چوکاټ کې د تضمین کیفیت اساسي معیار دی، چې په نړۍ واله کچه د پوهنتونونو د سیالۍ او درجه بندۍ پرې کیږي. دا برخه د شیخ زاید پوهنتون ټکنی دی او په اړه یې د څېړنیزو چارو مرستیال پوهنمل دوکتور احمد جاوید شکیب (ځانګړې مرکه، ۱۰ جوزا، ۱۴۰۴) وایي" د څېړنو تمویل، منابع او تخنیکي ملاتړ تقریباً په شیخ زاید پوهنتون کې د نشت په معنا دي. نه بودیجه شته، نه تخنیکي همکاري شته او نه د څېړنو تمویل. کومې څېړنې چې ترسره کیږي استادان یې د خپلو امکاناتو په نظر کې نیولو سره چمتو کوي."

په هغه سروې کې چې د شیخ زاید پوهنتون په کادري غړو او اداري کارمندانو باندې تر سره شوې ده او (۱۰۰) سل کسانو ځواب کړې ده؛ د تضمین کیفیت د تطبیق پر وړاندې لویې ننګونې او خنډونه په لاندې ګراف کې ښایي.




**شکل ۳. په شېخ زاید پوهنتون کې د تضمین کیفیت پر وړاندې ننګونې**

څه ډول چې په ۳ شکل کې ښکاري، د شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت د تطبیق پر وړاندې تر ټولو ستره ننګونه د بودیجې کمښت دی، چې له ۱۰۰ څخه ۶۱ کسانو یا ٪۶۱ سلنه کادري غړو او اداري کارمندانو ورته اشاره کړې ده. ورپسې دویمه لویه ننګونه، چې د سروې له ۱۰۰ څخه یې ۶۰ کسانو یا ٪۶۰ سلنه ګډونوالو یې یادونه کړې ده هغه د مالي ملاتړ نشتون دی، چې شیخ زاید پوهنتون ورسره مخ دی. درېیمه لویه ننګونه، چې ٪۵۴ سلنه ګډونوال ورسره موافق و، د معیاري تدریسي

وسایلو نه شتون دی. څلورمه لویه ننګونه چې د تضمین کیفیت د تطبیق پر وړاندې خنډ دی او ۵۲٪ سلنه ګډونوالو تائید کړي ده؛ هغه د مسلکي کادرونو کمښت دی. ورپسې هغه موارد، چې د ګډونوالو د موافقې سلنه یې له ۵۰٪ کمه ده په ترتیب سره: په کاري مارکېټ کې د فارغینو نه استخدام، استادانو او کارمندانو د کاري لیوالتیا کمښت، د مسلکي ظرفیت لوړونې نشتون، د مدیریت بې ثباتي، د روښانه پالیسیو نشتون، د ښه چاپیریال نشتون، د کیفیت فرهنګ نشتون او د نړیوالو مرستو نشتون هغه برخې دي، چې د تضمین کیفیت د ښه تطبیق پر وړاندې ننګونې بلل شوي دي.

په سروې کې بل ځای د ننګونو په اړه آزاده پوښتنه شوي ده، چې له ۱۰۰ څخه ۵۳ کسانو ځواب کړي ده؛ دې پوښتنه کې ګډونوالو د تضمین کیفیت د تطبیق پر وړاندې نورو ننګونو ته هم اشاره کړي ده، چې مهم یې په بهرنیو هیوادونو کې د ماستري، دوکتورا او نور اړوند د ظرفیت لوړونې پروګرامونو نشتون، داخلي او نړی والو پوهنتونونو سره د تواميتونو نشتون، د تضمین کیفیت په برخه کې د استادانو او اداري کارمندانو تنبلي او د کاري ژمنتیا نشتون، د کیفیت او واقعیت پر ځای کاغذي اسنادو ته زیاته ترجع ورکول او د ارزونې لپاره د واحد میکانېزم نشتون هغه خنډونه او ننګونې دي، چې تضمین کیفیت مؤثر تطبیق مخه یې ډب کړي ده.

**په شیخ زاید پوهنتون کې د تضمین کیفیت د ښه تطبیق لپاره شته فرصتونه**

شیخ زاید پوهنتون د افغانستان په کچه د لویو او معتبرو په پوهنتونونو په کتار کې له هغه پوهنتونونو څخه دی، چې په بریالتوب سره یې د تضمین کیفیت دریېم پړاو او د بشپړ اعتبار سند اخیستی او تر دې مهاله د بشپړ اعتبار د خوندیتوب سند لري. یاد پوهنتون د تضمین کیفیت په برخه کې له ډېرو پیچلو پړاونو او ننګونو تېر شوي، چې تر څنګ یې ځینې لویو فرصتونو هم شتون درلود او اوس یې هم لري. د شیخ زاید پوهنتون هغه فرصتونه، چې د تضمین کیفیت برخه کې مؤثر تمام شوي او اوس هم د تضمین کیفیت د پروسې لپاره ګټور دي؛ را ټول او د مقالې په دې برخه کې تحلیل شوي دي.


د تضمین کیفیت په برخه کې د شیخ زاید پوهنتون لوی فرصت دا دی، چې د هېواد پهٔ کچه پنځه خارجي بیا کتونکي (بازنګران) لري؛ چې د هېواد پهٔ تحصیلي

نهادونو کې خپل خدمت ترسره کوي، او له برکته يې شيخ زايد پوهنتون د هيواد په کچه په پنځو غوره پوهنتونونو کې دويم مقام خپل کړی دی. همدا راز، شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت او ځانګو د دوره يي بيا کتنې يا Periodic Program Review (PPR) په برخه کې داسې مسلکي رزول شوي کسان لري، چې په مختلفو هيوادونو کې يې ټرنينګونه تر لاسه کړي دي. سربېره پردې، شيخ زايد پوهنتون د پوهنتون ټولو معاونيتونو، رياستونو، آمريتونو، ځانګو، شورا ګانو، اصلي او فرعي کميټو او د اداري کارکوونکو لپاره د تضمين کيفيت په برخه کې ځانګړي چيکلستونه ترتيب شوي دي، چې د هغو چيکلېستونو لهٔ مخې د خپلو ټولو کلنيو فعاليتونو اسناد برابرېږي او د همغو چيکلېستونو پهٔ اساس بېرته ارزول کېږي (ظ. ظهير، ځانګړي مرکه، ۸ جوزا، ۱۴۰۴).

بلخوا د شيخ زايد پوهنتون د علمي چارو مرستيال پوهنمل نور الله حسين خېل د تضمين کيفيت برخه کې لوړ رتبه استادان، د لوړو زده‌کړو پوره همکاري او په ياده برخه کې د کادري او اداري پرسونل شل کلنه تجربه هغه لوی فرصت بولي، چې د تضمين کيفيت برخه کې ترې ښه استفاده کېدای شي (ځانګړي مرکه، ۵ جوزا، ۱۴۰۴).

دا چې د تضمين کيفيت برخه کې څېړنيز فعاليتونه خورا مهم دي، د لوړو زده‌کړو وزارت له لورې د شيخ زايد پوهنتون په تشکيل کې د تحقيق معاونيت ايجاد شو، چې په دې سره د څېړنيز فعاليتونه تر ډېره منظم او چټک شول. د دې لپاره چې د ادبي غلا (Plagiarism) مخه ونيول شي؛ لوړو زده‌کړو وزارت له لورې شيخ زايد پوهنتون ته د ټورنيټين (Turnitin) يوزر ورکړل شو، چې دا د تضمين کيفيت او تحقيق برخه کې نړيوالو معيارونو ته د برابريدو لوی فرصت دی او د پوهنتون په درجه بندی (Ranking) کې به ښه تاثير ولري. (ا. ج، شکيب ځانګړي مرکه، ۱۰ جوزا، ۱۴۰۴).

په هغه سروې کې چې د شيخ زايد پوهنتون په کادري غړو او اداري کارمندانو باندې تر سره شوي ده او (۱۰۰) سل کسانو ځواب کړي ده؛ د تضمين کيفيت د غوره تطبيق لپاره شته فرصتونه په لاندې ګراف کې څرګندوي.




**شکل ۴. د شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت د ښه تطبیق لپاره فرصتونه**

لکه څه ډول چې په ۴ شکل کې ښکاري، شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت د ښه تطبیق لپاره تر ټولو لوی فرصت په هیواد کې باثباته امنیت دی، چې له ۱۰۰ څخه ۵۸ کسانو یا ۵۸٪ سلنه کادري غړو او اداري کارمندانو له خوا یې یادونه شوې ده. په دویمه برخه کې لوی فرصت، چې له ۱۰۰ څخه یې ۵۷ کسانو یا ۵۷٪ سلنه ګډونوالو یادونه کړې ده؛ د پوهنتون سره د لوړو زده کړو وزارت همکاري ده. درېیم لوی فرصت، چې د شیخ زاید پوهنتون تضمین کیفیت برخه کې ګټور تمامیږي د ټیکنالوژۍ پرمختګ او کارول یې دي، چې په سروې کې ۵۲٪ سلنه ګډونوال ورسره موافق و. څلورم لوی فرصت، چې د تضمین کیفیت د ښه تطبیق لپاره باید ترې استفاده وشي؛ د تدریس په برخه کې د استادانو د ظرفیت لوړول دي، چې په دې برخه کې شیخ زاید پوهنتون د پایلو پر بنسټ زده کړو او شاګرد محوري زده کړو (OBE & SCL) او تدریس میتودلوژي برخه کې د اکثریت استادانو ظرفیت لوړ دی او ورکشاپونه ورته دایر شوي دي، چې د سروې په اساس ۴۲٪ سلنه ګډونوال ورسره موافق و. دا چې نړۍ والې همکارۍ او تمویل د لوړو زده کړو برخه کې خورا ارزښت لري، د سروې په اساس شیخ زاید پوهنتون د نړیوالو همکاریو فرصت نلري، چې دې برخه کې د ګډونوالو د توافق سلنه ۲۳٪ وه.

د سروې په بله برخه کې د فرصتونو په اړه آزاده پوښتنه شوې ده، چې له ۱۰۰ څخه ۴۱ کسانو ځواب کړې ده؛ دې پوښتنه کې ګډونوالو د تضمین کیفیت د مؤثر تطبیق پر وړاندې نور فرصتونه هم یاد کړې دي چې شیخ زاید پوهنتون یې لري او مهم یې؛ د مسلکي ظرفیت لوړونې لپاره د مسلکي پرمختیا مرکز (PDC) شتون، د

هغو دوکتور او ماستر استادانو شتون چې په خارج کې يې تحصيل کړی دی او نړۍ والې تجربې له ځان سره لري، د قوي همغږۍ شتون، د انټرنېټ شتون او د ټکنالوژۍ په برخه کې د لوړو زده‌کړو د معلوماتو مديريتي سيستم (HEMIS) شتون هغه لوی فرصتونه دي، چې شيخ زايد پوهنتون يې د تضمين کيفيت د ښه تطبيق لپاره لري.

د فرصتونو له جملې تر ټولو مهم د متحده عربي اماراتو سره د تواميت شتون دی. دا چې متحده عربي اماراتو د شيخ زايد پوهنتون لپاره ټول تدريسي، اداري بلاکونه او په ټوله کې يې د پوهنتون اکثريت زيربناوې جوړې کړي او فعلاً هم ټولې تدريسي او د ليليې ودانۍ يې د ترميم لاندې دي او فزيکي منابع د تضمين کيفيت د معيار په توګه يې د شيخ زايد پوهنتون سره زياته مرسته کړې ده.

**پايله**

دا څېړنه د افغانستان د لوړو زده‌کړو نظام کې په ځانګړي توګه د تضمين کيفيت برخه کې شيخ زايد پوهنتون ته ژوره کتنه کړې او د ننګونو او فرصتونو د تحليل وروسته د تضمين کيفيت د ښه تطبيق لپاره اغېزمنې او اړينې لارې چارې مشخصې کړي دي. څېړنه روښانه کوي، چې شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت برخه کې د ننګونو سربېره پرمختګ کړی دی؛ پداسې حال کې چې دا پروسه د افغانستان په کچه نوې ده او لا هم وده کوونکې ده.

شيخ زايد پوهنتون په ۱۳۹۱ کال کې د تضمين کيفيت بهير پيل کړ، چې له دريو پړاوونو وروسته يې د لوړو زده‌کړو وزارت لخوا بشپړ اعتبار ترلاسه کړ. دا اعتبار د پوهنتون د اداري، علمي او څېړنيزو فعاليتونو د معيارونو مطابق تنظيم ته اشاره کوي.

د پوهنتون د بيروني ارزونې راپورونه څرګندوي، چې د ۱۴۰۱ کال په ارزونه کې پوهنتون د بشپړ اعتبار د ساتلو په برخه کې پاتې راغلی، خو په ۱۴۰۲ کال کې يې بيا د خپلو نيمګړتياوو په اصلاح کولو سره، دغه اعتبار بېرته ترلاسه کړ او په افغانستان کې يې دويم مقام خپل کړ.

د څېړنې مهمه موندنه دا ده، چې د تضمين کيفيت بهير يوازې د اسنادو تنظيم نه دی، بلکې يو ژور، دوامداره او منابعو ته اړتيا لرونکې پروسه ده. د څېړنې له

موندنو څخه په ډاګه کیږي، چې شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت  په برخه کې تر ټولو لویې ننګونې، د څېړنو، معلوماتي سرچینو او کادري ظرفیتونو کمښت دی. د څېړنې معیار د تضمین کیفیت په ۱۱ معیارونو کې له ټولو زیات ارزښت لري، خو همدا معیار تر ټولو کمې نمرې ترلاسه کړي، چې د څېړنیز فعالیت ضعف او منابعو ته د نه لاسرسي ښکارندویي کوي او دا برخه پوره تمویل او مدیریت ته اړتیا لري. سربېره پردې، په شیخ زاید پوهنتون کې د تضمین کیفیت د تطبیق پر وړاندې نورې ننګونې او خنډونه هم شتون درلود لکه د بودیجې کمښت، د مالي او تخنیکي ملاتړ نشتوالی، د مسلکي کادرونو کمښت، د تدریسي وسایلو نیمګړتیا، د بازار د اړتیاوو سره د زده‌کړو نه‌برابري، د مدیریت بې‌ثباتي، د لوړ کیفیت فرهنګ نشتوالی، او د کاري ژمنتیا کم‌والی هغه ننګونې دي، چې د تضمین کیفیت په بهیر یې  منفي اغېز کړی‌دي.

بل‌خوا، د څېړنې له موندنو معلومیږي، چې شیخ زاید پوهنتون د تضمین کیفیت د ښه تطبیق لپاره یو لړ مهم فرصتونه لري، چې له جملې یې د هیواد په کچه باثباته امنیت، د لوړو زده‌کړو وزارت پوره همکاري، د څېړنو برخې لپاره د جدا معاونیت شتون او د څېړنیزو چارو د معیاري کولو لپاره پوهنتون ته د Turnitin په واک کې ورکول، د ظرفیت لوړونې لپاره د (PDC) مسلکي پراختیا مرکز شتون، د ظرفیت لرونکو استادانو شتون، د معلوماتو د غوره مدیریت او آنلاین تدریس  لپاره د(HEMIS) او (HELMS) سیستمونو او انټرنیټ شتون، او د ټکنالوژۍ پرمختګ او کارونه هغه بنسټیز فرصتونه دي، چې پوهنتون یې د تضمین کیفیت برخه کې په ښه توګه کارولی شي. سره له دې، شیخ زاید پوهنتون د هیواد په کچه ۵ بیا کتوونکي (بازنګران) ، د عربي متحده اماراتو سره په مالي برخه کې ملاتړ، د هغو دوکتور او ماسټر استادان چې خارجي تجربې له ځان سره لري د تضمین کیفیت د لا ښه‌والي لپاره اغېزمن فرصتونه دي. د سروې پایلې ښیي چې ٪۹۸ کادري او اداري پرسونل د تضمین کیفیت اړوند پوهاوی لري، چې دا خپله یو مثبت ګام دی او د کیفیت فرهنګ د رامنځته کېدو نښه ده.

پايله کې دې ته رسيږو، چې د تضمين کيفيت بهير بايد يوازې د ارزونې لپاره نه، بلکې د دوامدار پرمختګ او حساب ورکونې لپاره وکارول شي. که له موجودو فرصتونو مؤثره ګټه واخيستل شي، او د يادو خنډونو مخنيوی وشي؛ نو نه يوازې شيخ زايد پوهنتون، بلکې د افغانستان ټول پوهنتونونه به د نړيوالو معيارونو سره سيالي کولی شي او د کيفيت يوه باثباته فرهنګ ته به لاره هواره شي.

**وړانديزونه**

د څېړنې موندونو ته په کتو، د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت تحصيلي نظام او د تضمين کيفيت پروسې د پياوړتيا او اغېزمن تطبيق لپاره لاندې وړانديزونه اړين او ګټور دي:

۱ . **څېړنيزو فعالتونو لپاره بوديجه ځانګړي کول:** څه ډول چې څېړنه څرګندوي، د شيخ زايد پوهنتون د تضمين کيفيت په ۱۱ معيارونو کې تر ټولو کمزوری معيار "څېړنه" ده، چې دا معيار د پوهنتونونو علمي اعتبار له خطر سره مخ کوي. لازمه ده چې پوهنتونونو ته د څېړنې لپاره ځانګړې بوديجه ورکړل شي. د څېړنيزو پروژو تمويل، د محصلانو او استادانو لپاره د څېړنيزو بورسونو برابرول، د څېړنېزو لابراتوارونو جوړول، د څېړنې مرکز جوړول او نړيوالو علمي ژورنالونو او آنلاين کتابتونونو ته د لاسرسي اسانتياوې بايد رامنځته شي.

۲ .**د مسلکي کادرونو ظرفيت لوړونه:** څېړنې څرګنده کړه، چې يو شمېر ستونزې د تضمين کيفيت برخه کې د مسلکي کادرونو کمښت او تخنيکي نه بلدتيا له امله رامنځته شوې دي. د ستونزې ته د حل په موخه، بايد منظم روزنيز پروګرامونه، ملي او نړيوال ورکشاپونه، سيمينارونه او تمريني برنامې د استادانو او اداري کارکوونکو لپاره تنظيم شي.

۳ .**د معلوماتي ټيکنالوژۍ پراختيا او اسانتياوو برابرول:** پوهنتونونه بايد د انټرنېټ اسانتياوې پياوړې کړي، ډيجيټل کتابتونونه ايجاد کړي، او د معلوماتو مديريت او آنلاين زده‌کړو عصري سيستمونه لکه (HEMIS) او (HELMS) لا پياوړي او معياري کړي. دا کار به د اسنادو ترتيب، ارزونې او تحليل پروسه چټکه او معياري کړي.

**۵ .د څېړنو برخه کې د ظرفیت لوړول او علمي صداقت:** د څېړنو کیفیت لوړولو لپاره باید د ادبي غلا پر وړاندې جدي مبارزه وشي. د Turnitin یا نورو نړیوالو سیستمونو منظم کارول، او د اخلاقي اصولو رعایت ته جدي توجه ضروري ده. دا به د پوهنتونونو تحقیق اعتبار لوړ کړي او د نړیوالو معیارونو سره برابروالي ته به لاره هواره کړي.

**٦ .د ملي او نړیوالو همکاریو پراخوالی:** د لوړو زده‌کړو وزارت له ادرسه دې د تضمین کیفیت د مؤثر تطبیق لپاره له داخلي او نړیوالو پوهنتونونو سره همکاري پراخه شي. د استادانو تبادله، ګډې څېړنیزې پروژې، ګډ کنفرانسونه او تعلیمي تړونونه به د نړیوالو تجربو څخه د ګټې اخیستنې په اساس د تضمین کیفیت برخه کې د ظرفیت لوړونې لامل شي.

**۷ . د تضمین کیفیت د فرهنګ رایجول:** د تضمین کیفیت پروسه باید یوازې د رسمي ارزونې لپاره ونه کارول شي، بلکې د پوهنتونونو د کلتور یوه برخه باید وګرځي. د کیفیت فرهنګ جوړولو لپاره دې استادان، محصلان، او اداري کارکوونکي د کیفیت ارزښت ته وهڅول شي. په همدې اړه باید د عامه پوهاوي ورکشاپونه او د کیفیت نندارتونونه ترتیب شي.

**۸ .د بازار د اړتیا پر اساس د نصاب چمتو کول :** د تعلیمي برنامو ارزونه باید د بازار د غوښتنو پر بنسټ وشي؛ اړتیاوو ته په کتو دې په مسلکي مهارتونو باندې ډېر تمرکز وشي، تر څو د صنعت او پوهنتونونو ترمنځ اړیکې پیاوړې شي.

**۹ .د ارزونې لپاره ثابته کړنلاره او د میکانیزمونو ترتیبول:** د لوړو زده‌کړو وزارت باید د پوهنتونونو د ارزونې لپاره واضحې کړنلارې، د دوامداره ارزونې میکانیزمونه، د منابعو برابروالي لپاره بودیجه، او د تضمین کیفیت لپاره مشخص معیارونه او ملاتړ چمتو کړي.

**۱۰. د تضمین کیفیت پروسې ته د بودیجې ځانګړي کول:** د دې لپاره چې د تضمین کیفیت اړوند ټول اسناد پر وخت را ټول شي او پروسه غښتلي شي، نو پوهنتونو ته باید د تضمین کیفیت لپاره ځانګړي بودیجه ورکړل شي.

## مأخذونه

حسنی، غلام سخی، هاشمی، محمد آصف، مملهوال، رحیم، سیرت، سید محمد، عمرزی، محمد شعیب، امین، محمد ایوب، احمدزی، محمد انور، عظیمی، زهرا، درانی، جاوید احمد، و فروتن، احمد. (۱۴۰۲، ۳ حوت) *گزارش ارزیابی تضمین کیفیت و اعتباردهی پوهنتون شیخ زاید* (گزارش ناچاپ). وزارت تحصیلات عالی، افغانستان.

سراج، محمد انور، شریفی، محمد ظاهر، حسنی، غلام سخی، توفیق، محمد موسی، و احمدزی، محمد انور. (۱۴۰۱، ۱۵ دلو) *گزارش ارزیابی تضمین کیفیت و اعتباردهی پوهنتون شیخ زاید* (گزارش ناچاپ). وزارت تحصیلات عالی، افغانستان.

ناصری، احمد، دوستم، سید، و ایوبی، تمیم) .۱۴۰۰. *گزارش ارزیابی تضمین کیفیت و اعتباردهی پوهنتون شیخ زاید* (گزارش ناچاپ). وزارت تحصیلات عالی، افغانستان.

Go8. (2018, July 10). *Submission to House of Representatives Standing Committee on Employment, Education and Training inquiry into funding Australia's research*. Retrieved July 14, 2018, from https://go8.edu.au/sites/default/files/docs/publications/2018-07-10_go8_submission_to_hor_inquiry_into_funding_australias_research_final_002.pdf

Global University Network for Innovation (GUNI). (2007). *Higher education in the world 2007: Accreditation for quality assurance. What is at stake?* Palgrave, New York, NY.

Harvey, L., & Green, D. (1993). Defining quality. *Assessment & Evaluation in Higher Education, 18*(1), 9–34. https://doi.org/10.1080/0260293930180102

Hayward, F. (2015). *Transforming higher education in Afghanistan: Success amidst ongoing struggles*. Society for College and University Planning (SCUP), Ann Arbor.

Lim, D. (2001). *Quality assurance in higher education: A study of developing countries*. Ashgate, Burlington, VT.

New York Times. (2018, January 9). Cutting into patronage politics: A struggle to make government younger. Retrieved from https://www.nytimes.com/2018/01/09/world/asia/afghanistan-corruption-reform.html

Nguyen, C. H. (2018). *Professional development for higher education quality assurance and accreditation personnel in Vietnam: A macro study* (Unpublished doctoral dissertation). University of New South Wales, Sydney.

OECD. (2016). *States of fragility 2016: Understanding violence*. Organisation for Economic Co-operation and Development, Paris.

Roof, D. (2015). Day-by-day: Higher education in Afghanistan. *FIRE: Forum for International Research in Education, 1*(3), 64–80.

Valeikiene, A. (2017, November 17). The politics of quality assurance in higher education. *University World News, 483*. Retrieved December 20, 2017, from https://www.universityworldnews.com/article.php?story=2017111610182154

Welch, A. (2011a), "Quality assurance in the Afghan higher education system", TA Report, Ministry of Education, Afghanistan, and AusAID, Kabul.

Welch, A. (2011b), Higher Education in Southeast Asia. Blurring Borders, Changing Balance, Routledge, London.

Welch, A. (2019a), "The history of Asian higher education", in Rury, J. and Tamura, E. (Eds), Oxford Handbook in the History of Education, Oxford University Press, Oxford, pp. 302-315.

Welch, A. and Wahidyar, A. (2020), "Quality assurance in Afghan higher education: achievements and challenges", Asian Education and Development Studies, Vol. 9 No. 4, pp. 479-493. https://doi.org/10.1108/AEDS-09-2018-0146

World Bank (2008), "AFGHANISTAN", Country Summary of Higher Education, available at: http://siteresources.worldbank.org/EDUCATION/Resources/278200-1121703274255/1439264-11932 49163062/Afghanistan_CountrySummary.pdf

World Bank (2018), "Harmonized list of Fragile situations FY 18 a/", available at: http://pubdocs.worldbank.org/en/189701503418416651/FY18FCSLIST-Final-July-2017.pdf (accessed 6 July 2018).

# Challenges and Opportunities of Quality Assurance in Afghan Universities: A Case Study of Shaikh Zayed University

**Teaching Assistant Haroon Borhan**

Public Relations, Communications, and Journalism, Shaikh Zayed University, Khost, Afghanistan

Email: **borhanharoon@gmail.com**

## Abstract

The research provides a scholarly review of the challenges, opportunities, and processes of quality assurance in Afghan universities, with a particular focus on Shaikh Zayed University. The main research purpose is to inspect how is the quality assurance process at Sheikh Zayed University, and to study what opportunities and challenges this process faces. The research hypothesis suggests that despite various challenges, the quality assurance process at Shaikh Zayed University is moving forward effectively, and if the existing opportunities are properly managed, the process will be implemented more successfully and efficiently. The study is based on a mixed analytical and descriptive method, using surveys, semi-structured interviews, and the analysis of official documents. The survey sample consisted of deans of faculties, heads of departments, lecturers, academic registrars, and administrative staff. In addition, in-depth interviews were conducted with the vice chancellor for academic affairs, the vice chancellor for research, and the head of quality assurance. Furthermore, the external evaluation reports of quality assurance at Shaikh Zayed University for the years 1400, 1401, and 1402 were carefully studied. The findings show that although the quality assurance process at Shaikh Zayed University holds full accreditation, it still faces obstacles such as weak research, limited information resources, technological deficiencies, insufficient budget, lack of human capacity, and unclear policies, all of which have negatively affected its effectiveness. On the other hand, ministry support, stable security, the professional development center, and the presence of trained academic staff both inside and outside the country are important strengths for strengthening quality assurance. This research will contribute to the Ministry of Higher Education and universities in formulating policies related to quality assurance.

**Keywords:** Quality Assurance, Higher Education, Challenges, Opportunities, and Shaikh Zayed University, Afghanistan.